مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۳/۲۹

# يو «سر» او څو لونګيني لنډۍ

«لو ګډ شو، ګډ شو د لونګو لو ګډ شو
چې لونګ لو شي، بيا به لاس تر غاړې څونه
تور لونګين زما لالی دی
لو ګډ شو، ګډ شو د لونګو لو ګډ شو
څکه زه تور لونګ په غاړه ګرځومه
«لو ګډ شو، ګډ شو د لونګو لو ګډ شو
چې لونګ لو شي، بيا به لاس تر غاړې څونه»




«سر» يا «سروکی» چې ځينې پښتانه يې «پام» بولي، د پښتو ولسي شفاهي سندرو يو خوږ او مست شعري ډول دی چې يوه برخه يې په خپله «سر» يا «سروکی» دی او بله برخه يې لنډۍ ده. «سر» يا «سروکی» يوازې نه ويل کيږي، لنډۍ يې حتمي جز دی او د لنډيو په وسيله بشپړيږي.
(د زياتو مالوماتو له پاره وګورئ:رفيع حبيب الله، د خلکو سندرې، خپرونکی: د افغانستان د اکاديمی د تاريخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹ کال، ۱۲۳ ـ ۱۲۴ مخونه)
د فولکلور په باب په يوه بل اثر کې راغلي چې:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

«دا یو ډول ولسي سندرې دي چې له لویه سره له ځو نورو سندرو سره مشابه صنف ګڼل کیږي. د ولسي سندرو دا صنف د یوه ځانګړي نورم په توګه له ډیر پخوا څخه په ولس کې شته...»
(پوهنوال احمدشاه زغم، فولکلور او فولکلوري ادبیات، خپرندوی: د افغانستان ملي تحریک فرهنګي ځانګه، ۱۳۹۴ ـ ۲۰۱۵ کال، ۱۲۶ ـ ۱۲۷ مخونه)
زه دلته د «سر» یا «سروکی» په باب له نورو توضیحاتو نه تیریږم، یوه هغه بیلګه یې له لنډیو سره وړاندې کوم چې سندرغاړو ښه په خوند سره زمزمه کړې ده:

**«لو ګډ شو، ګډ شو د لونګو لو ګډ شو**
**چې لونګ لو شي، بیا به لاس تر غاړې ځونه**
**تور لونګین زما لالی دی**
**لو ګډ شو، ګډ شو د لونګو لو ګډ شو**
**ځکه زه تور لونګ په غاړه ګرځومه**
**«لو ګډ شو، ګډ شو د لونګو لو ګډ شو**
**چې لونګ لو شي، بیا به لاس تر غاړې ځونه»**

زما د مالوماتو له مخې، دا سندره کلونه پخوا، خوږ ژبي سندرغاړي ښاغلي ډوکتور صادق فطرت ناشناس ویلې ده چې تر نن پورې مینه وال لري او خلک یې پرله پسې اوري او خوند ور نه اخلي. ښاغلي ناشناس په دوو جلا ډولونو دا سندره زمزمه کړې ده، یوه یې لومړنی بڼه ده چې ډیر کلونه پخوا یې زمزمه کړې او بله یې په اوسنیو وختونو کې ویلې ده چې دواړه برخې یې جلا خوند لري.
البته د دې خبرې یادول هم اړین ګڼم چې دې ته ورته ځو نور سرونه هم شته چې د «لونګ» او «لونګین» توری په کې به کارول شوي او یاد شوي دي چې له اصل «سر» سره توپیر لري. کیدای شي ډیر وي، ځوهغه بیلګې دا دي:

**لونګینه په ځنګ، ځنګ راواوره**
**په ځنګ راواوره چې دې مات نه شي بندونه**

بیا لنډۍ ور اچول کیږي.

**هلکه ورانه به شي ستا لیونی مینه وناړې**
**لونګینه و ناړې**

بیا لنډۍ ور اچول کیږي.

د لونګو وني!
ځانګې دې ګل شه چې جانان سره درځمه

بیا لنډۍ ور اچول کیږي.

یو پلو مې یاز لونګین مې په دا بل پلو
لا وروکیه دې پلو راواوره

بیا لنډۍ ور اچول کیږي.

د «لو ګډ شو د لونګو لو ګډ شو» په سندرو کې دوې یا درې لنډۍ اچول شوې دي، چې په ټولو سندرو کې بیا، بیا سندرغاړو تکرار کړې دي.
ما په لونګینو لنډیو پسې لټه وکړه، ځو لنډۍ مې پیدا کړې، خو تنده مې خړوبه نه شوه. بیا مې وتلي او پر کاره فرهنګي شخصیت، ګران دوست ډاکتر لطیف یاد ته په مسنجر کې د مرستې ولیکل، هغه هم د تل په شان لطف وکړ او نه یوازې ځو لنډۍ، بلکې د لونګو په باب یې هم مالومات را ته ولیکل چې زه یې دلته کټ مټ له درنو لوستونکو سره شریکوم:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«لونګ او لونګين په پښتو لنډيو ( ټپو ) کې:
په پښتو ټپو ( لنډيو ) کې د لونګ او لونګين په اړه ډير ې لنډۍ (ټپې) لرو. لونګ هغه دانه ده چې تور رنګه يا قهوه يي رنګ لري او په انګريزي کې ورته (clove) وايي چې په اومه حالت کې تر ډېره شنه او سره ښکاري. دا بوټی تر ډيره د هند په جنوب، اندونيشيا او مليشيا کې شهرت لري او ډېر پخوا تری کار اخيستل شوی دی. ويل کيږي چې په اندونيشيا او مليشيا هيوادونو کې خلک د لونګو سګرټ هم څکوي.
د آسيا په سويلي هيوادونو کې تر ډېره خلک د نورو مسالو سره يو ځای په خوړو کې د لونګو کار اخلي او په تېره بيا د لونګو نه د عطرو، چايو، درملو او کريمونو په جوړولو کې ګټه اخلي چې خوشبويه شي.
د افغانستان په پښتني سيمو لکه: لوګر، پکتيا، پکتيکا، خوست، غزني، کندهار، زابل، ننګرهار، لغمان، کونړ او ميدان وردګو کې خلک او په تيره بيا کوچيان لونګ د ښکلا او خوشبويي لپاره کاروي.
په يادو ولايتونو کې پيغلې او ناوې د لونګو نه د غاړې اميلونه او ځوندي جوړوي چې بيا يې پر کميس ټومبي. د لونګو نه جوړشوي اميل ته په پښتو کې لونګين وايی چې په پخوا وختونو کې لونګين د ناوې د پسول يوه لازمي برخه وه.
په خوست کې کله چې ناوې د خاوند کور ته ځي، نو دوه وړې کڅوړې لونګ د ډالۍ په توګه ورکوي.
بايد وويل شي چې لونګ تيز بوی لري او په کوم صندوق کې چې ورېښميني جامې پرتې وي او ورسره لونګ ايښودل شوي وي، هغه جامې د چينجيانو څخه خوندي وي.»

دلته به اوس د لونګينو لنډيو څو بيلګې وړاندې کړم. د دې لنډيو ځينې بيلګې سندرغاړو په خپلو سندرو کې له «سرونو» سره ويلې دي او ځينې نورې يې ډاکتر صاحب ياد په خپل يادداشت کې را ليږلي دي:

**تور لونګين زما لالی دی**
**څکه زه تور لونګ په غاړه ګرځومه**

**چې لو کوې ګوتې به پرې کړې**
**پلار ته دې وايه چې لوګري واچوينه**

**سپوږميه سروهه راخيژه**
**يار د لونګو لو کوي ګوتې ريبينه**

**لونګ کرمه، لوبه ګډ کړم**
**چې لو مې ګډ کړ ياره تا به راولمه**

**دا ته چې لاړې مساپرشوې**
**د شنو لونګو کښت به څوک ريبي مينه**

**دا ته چې لاړې مسافر شوی**
**کښت د لونګو به مې څوک ريبي مينه**

**بارانه مه اوره لږ تم شه**
**ليلا لونګ په درمندو شيندلي دينه**

**که چا لونګ ليدلي نه وي**
**پيغله خولې که د لونګو بوی ترې ځينه**

**په غرونو تورې لړې راغلې**
**ښکته يې يووړل د لونګو درمندونه**

**خاونده بيا دې پسرلی کړ**
**له وچه ډاګه د لونګو بوی راځينه**

**خلګ مې تکه توره بولي**
**تور خو لونګ دي پاچاهان يی بويوينه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

**تینګه می مه نیسه په غیږ کی**
**سبا به بوی د لونګین در ښخه ځینه**

**د لونګین په لړ راخیژه**
**په اوږی شپه کړه د چارګل وکړه سیلونه**

**تور لونګین په ژړا راغی**
**ماته روپی په سینه ځای نه راکوینه**



پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ